Pashto | پښتو

Cancer Council SA

# د سرطان د ژر موندلو لپاره ازموينې

## د آسټراليا د سرطان د معاينې پروګرامونو په اړه معلومات



د سرطان ژر کشف

معلومات او ملاتړ

**13 11 20**

**cancersa.org.au**

## د سرطان د ژر موندلو لپاره معاينې

آسټراليا د سرطان د معاينې درې پروګرامونه لري. دا پروګرامونه د کولمو، سينې او رحم د سرطان د لومړنيو نښو موندلو لپاره ساده ازموينې کاروي. د سرطان ژر موندل درملنه آسانه کوي، او د ژوندي پاتې کيدو چانس زياتوي.

دا معاينات د هغو خلکو لپاره دي چې د سرطان نښې نلري. که تاسو د سرطان نښې لرئ، خپل ډاکټر ته وواياست.

که تاسو شنه يا نيلي (لنډمهاله) ميډيکير کارت ولرئ، نو دا درې ازموينې وړيا دي. که تاسو د ميډيکير کارت نلرئ، نو له خپل ډاکټر سره خبرې وکړئ چې د معايناتو لګښت به څومره وي.

### د سرطان معاينه کول ستاسو ژوند ژغورلی شي.

که تاسو د کولمو، سينې يا د رحم د سرطان معاينه کولو په اړه نور معلومات غواړئ، له لاندينيو ويب پاڼو څخه ليدنه وکړئ

- cancersa.org.au
- breastscreen.sa.gov.au
- ncsr.gov.au

که تاسو د سرطان له تشخيص وروسته مرستې ته اړتيا لرئ، **د جنوبي استراليا د سرطان شورى** ته په **13 11 20** شمېره زنګ ووهئ.



دا سرچينه د Cancer Council SA او BreastScreen SA لخوا رامينځته شوې، او د چاپ او ژباړې تمويل د Country SA PHN لخوا شوی.

phn COUNTRY SA — An Australian Government Initiative

BreastScreen SA

Government of South Australia — SA Health

Cancer Council SA

د سرطان په اړه د وړيا* او محرم معلوماتو او ملاتړ لپاره، دوشنبې څخه تر جمعې د سهار له 9:00 بجو څخه د مازديګر 5:00 بجو پورې:

- د سرطان شورا **13 11 20** ته زنګ ووهئ
- په **cancersa.org.au** کې آنلاين خبرې وکړئ
- **askanurse@cancersa.org.au** ته بريښناليک واستوئ

د ژباړې وړيا* خدمت په **131 450** کې شتون لري.

*د محلي تليفون لګښت

په فبروری 2025 کې بياکتنه وشوه




# د کولمو د سرطان ژر موندل

آسټرالیا د کولمو د سرطان د معاینې ملي پروګرام لري. دا پروګرام د کولمو د سرطان د لومړنیو نښو موندلو لپاره یوه ساده ازموینه کاروي، ډیری وختونه مخکې له دې چې نښې یې تاسو ته څرګندې شي. د معاینې بسته به ستاسو کور ته په پوسټ کې در واستول شي.

ټول اسټرالیایان چې عمرونه یې د 45-74 کلونو ترمینځ دي باید هر دوه کاله وروسته د کولمو د سرطان معاینه وکړي.

**د 45-49 کلونو عمر لرونکو:** د کولمو د سرطان لومړۍ معاینه آنلاین راوغواړئ. له هغې وروسته، تاسو به هر دوه کاله وروسته په اتوماتیک ډول یو نوی معاینه ترلاسه کړئ.

**د 50-74 کلونو عمر لرونکو:** تاسو ته به هر دوه کاله وروسته د کولمو د سرطان معاینه لیږل کیږي پرته لدې چې تاسې یې راوغواړی.

## Cancer Council SA سپارښتنه کوي:

- ستاسو ته چې کله د معاینې بسته در واستول شي تاسې یې باید ترسره کړئ او بیرته یې په پوسټ کې را واستوئ.
- که تاسو د کولمو د سرطان نښې لرئ نو له خپل ډاکټر سره وګورئ. په نښو نښانو کې یې له مقعد څخه وینه راتلل، په تشناب کې یا د کولمو له خالي کولو وروسته په تشناب کاغذ کې د وینې لیدل، ناڅرګند قبض یا اسهال، یا ناڅرګند ستړیا شامل دي.
- که تاسو د کولمو د سرطان کورنۍ تاریخچه لرئ نو له خپل ډاکټر سره وګورئ.

QR code box:

**د QR کوډ سکن کړئ ترڅو:**

- **خپل د لومړي ټیسټ بسته، یا بدیل ټیسټ راوغواړی.**
- **په خپله ژبه کې معلومات ومومئ.**



# د سینې د سرطان ژر موندل

BreastScreen SA د سینې سرطان د ژر موندلو لپاره وړیا معاینه میموګرامونه وړاندې کوي. میموګرام د سینې ایکسرې ده.

د میموګرامونه معاینه د 40 کلونو او پورته عمر لرونکو میرمنو لپاره ده، په ځانګړې توګه د 50-74 کلونو عمر لرونکو میرمنو لپاره.

د QR کوډ سکن کړئ یا BreastScreen SA ته په 50 20 13 شمېره زنګ ووهئ ترڅو خپل وړیا میموګرام ته نوبت ونیسئ. دوی کولی شي ستاسو د ملاقات لپاره وړیا ښځینه ژباړونکې وګماري.

ټول کارکوونکي ښځینه دي. تاسو د ګډون لپاره د خپل ډاکټر له پلوه راجع کولو ته اړتیا نلرئ.

## Cancer Counci SA او BreastScreen SA سپارښتنه کوي چې:

- په هرو دوو کلونو کې د وړیا میموګرام معاینه وکړئ.
- د خپلو تیونو عادي بڼه وګورئ او احساس یې کړئ تر څو تاسو په هغو بدلونونه چې پیښیږي و پوهیږئ. په بدلونونو کې غوټې، د سینو له څوکو څخه اخراجات، یا کوم بل بدلون شامل دي چې ستاسو لپاره عادي نه وي.
- که تاسو کوم بدلون وګورئ نو خپل ډاکټر ته مراجعه وکړئ، ځکه چې د میموګرام معاینه ستاسو لپاره مناسبه نه ده.


## breastscreen.sa.gov.au ته مراجعه وکړئ:

- د میموګرام کولو په اړه د نورو معلوماتو لپاره.
- ستاسو په ژبه کې د معلوماتو لپاره.

QR code box:

**د QR کوډ سکن کړئ ترڅو:**

- **د میموګرام لپاره خپل ملاقات آنلاین ثبت کړئ.**



# د رحم د سرطان ژر موندل

د انسان پاپیلوما ویروس (HPV) په وړاندې معافیت ترلاسه کول او د رحم منظم معاینه کول کولی شي د رحم د سرطان مخه ونیسي.

هغه ښځې او هغه خلک چې رحم لرونکي دي د 25-74 کلونو عمر لري باید په هرو پنځو کلونو کې په طبي کلینیک کې معاینه ترسره کړي. تاسو کولی شئ پخپله معاینه ترسره کړی (په خپله معاینه کول)، یا یو ډاکټر یا نرس کولی شي ستاسو لپاره معاینه ترسره کړي.

## Cancer Council SA سپارښتنه کوي:

- د HPV په وړاندې معافیت ترلاسه کول. دا واکسین د 12-25 کلونو عمر لرونکو خلکو لپاره وړیا دي. واکسین په درملتون یا طبي کلینیک کې ترلاسه کړئ. د اووم ټولګي ماشومانو ته په ښوونځي کې واکسین ورکول کیږي.
- د 25 کلنۍ څخه د رحم د سکرینینګ معاینه ترسره کول.
- کله چې تاسو خپله لیدنه کوئ، که اړتیا لرئ نو د ترجمان غوښتنه وکړئ. که تاسو وغواړئ، تاسو کولی شئ د ښځینه ډاکټرې یا نرس غوښتنه هم وکړئ.
- که تاسو د رحم د سرطان نښې ولرئ نو خپل ډاکټر وګورئ. نښې نښانې یې د حیض د دورو ترمینځ وینه راتلل یا د جنسي اړیکې نیولو پرمهال درد شامل دي.

QR code box:

**د رحم د سکرینینګ په اړه د نورو معلوماتو لپاره د QR کوډ سکین کړئ، په شمول د هغه معاینې چې په خپله یې ترسره کوی.**